**باميان پهٔ اسلامي امارت کې**

**امين وردګ**

تېره اونۍ مو د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري له آدرسه باميانو ته سفر وکړ چې د سفر مشري د يادې ادارې رئيس (مولوي غلام حيدر شهامت) کوله، پهٔ ياد سفر کې مو ډېر څهٔ وليدل او ډېر څهٔ مو زده کړل، اوس غواړم له تاسو سره يې هم شريک کړم.

کله چې د ادارې له انګړ څخه وتلو نو پهٔ پيل کې ښاغلي شهامت موږ ته وويل چې له دې وروسته سفر دی او زهٔ يوازې ستاسو مسئول يم نهٔ مو حاکم؛ يانې ټول بايد بې تکلفه او کاملاً صميمي و اوسو.

معمولاً د مشرانو له خوا داسې پيغامونه (هغه هم پهٔ سفر کې) ملګرو ته د ترحم، صميميت او مينې پيغام ورکوي چې د اسلامي نظامونو مشرانو ټول وخت همداسې تېر کړې او بيا بهٔ هم همداسې وي ان شاءالله! پهٔ هر حال... کله چې پهٔ موټر کې سپارهٔ شوو، نو د موټر د سټېريو واک ښاغلي شهامت پهٔ اختيار کې واخيست؛ کله بهٔ يې داسې ترانه چالانه کړه چې مغز ته يې مثبت تأثر ورکولو، کله داسې تبليغ چې د مبلِغ لوړ علمي او ژور منطقي استعداد بهٔ له ورايه پکې حس کېدلو، کله بهٔ يې بيا داسې تلاوت چالان کړ چې د زړونو زنګونه يې ليرې کول.

له کابل څخه لاړو ميدانښار ته، له هغهٔ ځايه د جلرېز او بهسودو پر سينه تېر شوو، د اونۍ او حاجيګګ پر کوتلو واوښتو، د باميانو زړهٔ راکښوونکو او باستاني درو پهٔ منځ کې د بودا ښار ته ننوتو؛ نو پر لارو مو چې کوم څهٔ وليدل هغه له تاسو سره هم شريکوم ان شاءالله، نو غوږ شئ! د جلرېز ولسوالۍ اړوند سرک ډېر جمپونه لرل چې د تېر شل کلن اشغال او جهاد نښانې له ورايه پکې ښکارېدلې، همدا راز خړ رنګي ترپلر ډوله نظامي (انټرنيشنال) موټر د سرک غاړې ته ليکه ولاړ وو چې د بربښنا ستنې پکې بار وې، دغه موټر د دفاع وزارت اړوند د کومي قول اردو، کهٔ د فرقې وو؟ چې د اشغال پهٔ وخت کې بهٔ پر ولس د ظلمونه پهٔ مهال کار ترې اخيستل کېدلو؛ ټول وژونکې وسلې او نظامي وسائط بهٔ پکې بار وو! خو نن د اسلامي نظام د حاکميت او سپېڅلو مجاهدينو د بې ساري قربانيو له برکته، د ولس خدمت ته راوتلي وو، نهٔ وربانديې ظلم او وحشت ته چې دا يو ستر مثبت بدلون ؤ او له ورايه حس کېدلو.

کله چې د جلرېز ولسوالۍ له مربوطاتو څخه ووتو او د اونۍ پر کوتل واوښتو، نو سرک کاملاً جوړ شو او د جمپ او جول نښانې يومخ له منځه لاړې، تر دې چې پر حاجي ګګ هم واوښتو او د باميانو اړوند جغرافيې ته دننه شوو، هلته نو بيا بلکل سرک روغ ؤ او هېڅ ځای کې مو د تېرې شل کلنې مبارزې نښې نښانې پرې و نهٔ ليدلې؛ داسې ښکارېدله لکه دغهٔ سرک چې ترپ او غرپ نهٔ وي ليدلي او د انقلاب له خړو سېلابونو څخه بلکل چا نهٔ وي خبر کړی، اما هو! يوازې پهٔ دې توپير چې درنو باروړونکو لاريو، ځينو ځايونو کې ښې ژورې جرې پرې کش کړې وې، خو الله دې وکړي چې دغې نکتې ته هم جدي پاملرنه وشي.

کله چې د ولایت تاریخي ښار ته داخل شوو، نو خلک یې ډېر مېلمه پاله او مخلص وو، لیکه کسان زموږ استقبال ته را وتلي وو، بیا یې په یوه عام هوټل کې زموږ لپاره د مېلمستیا تیاری نیولی ؤ او هلته مو ښه مېلمه پالنه وشوه؛ په خوراکونو کې خو نور ټول همدغه نن سبا مروج خوراکونه وو، اما یوازنی خوراک چې ډېر خوندور ؤ هغه طبعي قیماق یا رش ؤ؛ چې اټکل کیږي له طبعي پنیر سره هم مخلوت شوی ؤ؛ یانې د طبیعي پنیر او طبیعي رش ترکیبي خواړهٔ وو؟! چې دا بیا له ټولو خوندور هم وو.

دا چې زموږ د سفر هدف له خپلې ولایتي اداري څخه لیدنه او هلته د زون په سطحه د یوهٔ نوي ریاست لپاره د ځای برابرول وو چې په لومړي ځل زموږ د هزاره ورونو تخنیکي او مسلکي زده کړو ته دومره ژوره توجه وشوه چې هلته مو د ولایتي آمریت ترڅنګ د زون ریاست هم په خپل تشکیل کې زیات کړ، نو د دغهٔ هدف څنګ ته مو د بامیانو له والي سره هم ناسته وشوه چې نوموړي زموږ ډېر قدر وکړ، یقیناً باشخصیته څوک ؤ.

پهٔ هر حال... کله چې رسمي کارونه ختم شول نو بیا له موقع څخه پهٔ ګټې اخیستنې سره لاړو او د ښار له مختلفو ساحو څخه مو لیدنه وکړه، ښاري فرهنګ مو مشاهده کړ او تاریخي آبداتو ته پهٔ کتو مو پهٔ خیالي توګه باستاني تمدن ته سر ور ښکاره کړ او مستانه چکرونه مو پکې ووهل.

کله چې د صلصال پهٔ نوم له پنځوسو مترو څخه لوړې مجلسمې ته ورغلو او له نږدې مو ولیده او بله یې چې له دیرشو څخه لوړه وه او شمامه یې بلله، د هغې له نږدې څخه لیدو ته مو وخت پیدا نهٔ کړ نو عجیب حس مو لرلو؛ د پخوانیو پاچاهانو زور او قوت او بیا پر داسې کارونو قیمتي وخت او مال مصرفول! یقناً سړي ته دنیا پوښتنې پیدا کولې؟ آخر داسې څهٔ وو چې دغه کسان یې دومره لوړو مصارفو ته اړ کړي وو؟ د ځینو لرغونپوهانو له ادعا سره سم! له نن څخه تخمیناً آتلس یا نولس پېړۍ وړاندې یادې مجسمې جوړې شوې، چې هغه مهال هېڅ ملډرنه یا عصري تکنالوژي هم نهٔ وه، نو دا سترې غول پیکرې یې څرنګه جوړې کړې دي او پهٔ څومره وخت کې یې جوړې کړې؟ ولې یې جوړې کړې؟ خو دا ټولې هغه پوښتنې دي چې تر اوسه پهٔ معقول او قانع کوونکي ډول نهٔ دي ځواب شوې! پهٔ هر حال... د مجسمو څنګ ته بلها مغارې وې چې دننه پهٔ ښکلو معماري میناتوریو مزینې شوې وې او زیاتره یې مضلعې یا پولیګونونه وو چې آتهٔ ضلعې یې لرلې او ښکلې کمبدې هم پکې حکاکي شوې وې، خو دا ټول کارونه د یوهٔ ګاګرین غرهٔ پهٔ بهرنی عمودي برخه کې تر سره شوي وو، مجسمې له نن څخه شاوخوا ۲۴ کاله وړاندې پهٔ توپونو ویشتل شوې وې، چې د بدن لویې ټوټې یې پهٔ خپلو پښتو کې پرتې وې! خو دلته هم ډېرې پوښتنې وې؛ وایي چې دغو هیولاوو ته بهٔ ځینو انسانانو خدایان ویل او سجدې بهٔ یې ورته کولې، حال دا چې دا د وخت یوهٔ پاچا د همدغهٔ ولاړ غرهٔ له ګاګرین او ډېرین جنس څخه جوړې کړې وې؛ یانې پر خپل ځای یې تراشلې وې؛ یانې لږترلږه له بل ځای څخه یې هم نهٔ وې راوړې او نهٔ یې د ډېرې له کوم بل قیمتي جنس (زمرودو، لاجوردو، یاقوتو، سرهٔ زرو او...) څخه جوړې کړې وې او بل کس (ملا محمد عمر مجاهد) همدا مجسمې چې هغوی بهٔ خدایان بلل له منځه یووړې؟! خو نهٔ یې هغه مهال چاته څهٔ ویلي وو چې دا اندام راجوړ کړی او دا مه را

جوړوی! یا یې داسې او هاغسې راجوړ کړی، نهٔ یې د رانړولو پهٔ وخت کې لړتلړه له ځان څخه دفاع کړې وه، نو سړی حیران شي چې دهٔ ته سجدو کولو څهٔ گټه لرله او یا بهٔ گټه لري؟ پهٔ هر حال... یو تاریخ ؤ چې د پخوانیو د عقل او فکر طرز او توان یې موږ ته راښوولو، نو ښه وه چې پر همغه پخواني شکل ساتل شوې وای! خو خیر... دا خبرې پهٔ موږ پورې اړه نهٔ لري، بلکې یو ډول تاریخي جذر مدونه دي چې موږ صرف درسونه ترې اخلو او بس.

له هغه ځایه لاړو د غلغلې پهٔ نوم تاریخي تپې ته چې (شارغلغله) یې بللو، تاریخ لیکونکي یې سپین ښار یادوي او د اسلامي تمدن لومړني آثار یې بولي او بیا دا ورسره لیکي چې دا ښار د اشغالگرو مغلو (چنگېزي لښکرو) وحشت و سوزولو، اما داسې پېچلې او مغلقه معماري پکې شوې وه چې اوس هم قابل د استفادې دی، یانې ورانول او یو مخ له منځه وړل یې هغه مهال آسانه نهٔ وو.

بل خوا د محلي وگړو فرهنگ او رواجونه هم عجیبه وو؛ د کورنو معماري جوښت یې موږ ته ډېر پیغامونه راکول او دنیا پوښتنې یې را ویښولې! له یوې خوا ډېری خلکو پخوانی فرهنگ کارولو؛ یانې ښځینه ؤ بهٔ د ښار پهٔ منځ کې د تېر شوي سیند پر غاړه جامې وینځلې او هم بهٔ یې له دغهٔ ځایه اوبهٔ وړلې چې پخوا بهٔ خلکو گودرونه بلل او شاعرانو بهٔ پهٔ خپلو شعرونو کې پهٔ ډېره جذابه توگه یادول او ستایل بهٔ یې او بله جالبه دا وه چې د کورونو جوښت یې له ځان سره یو عالم پیغامونه لرل؛ زیاتره کورونه داسې جوړ وو چې بهرنۍ محوطې یې نهٔ لرلې، سره تړولې مهندسي نقشې یې پلې کړې او عملي کړې وې چې لویې لویې وروسۍ یا کړکۍ یې عمومي لارو ته ختلې وې او پهٔ ټولو کې داسې ښیښې ایښې وې چې غل پهٔ آسانۍ سره تېرې تېربدلی شوای، اما داسې ښکارېدله چې دا ښار او دا کلي ټول امن وو او فکر کیږي چې د غلا او نورو بد اخلاقیو گراف ډېر ټیټ ؤ؛ همدلته د یادونې وړ ده چې پخوا بهٔ ځایي خلک واکمن وو اما اوس زیاتره رهبري پستونه د نورو ولایاتو له کسانو سره وو او ځایي خلک یې ډېری پهٔ کاري بستونو کې گمارل شوي او مصروف وو، نو دا نکته هم موږ ته پیغام راکوي چې کهٔ پخوا دلته امنیتي ستونزې کمې وې، علت یې پر دغو خلکو د خپلو کسانو حاکمیت ؤ اما اوس چې اسلامي امارت هلته د نورو ولایاتو کسان حاکمان کړي، امنیت دوه برابره شوی دی چې دا موږ ته د اسلامي نظام د عدالت، برابرۍ، ورورولۍ او صداقت زېری راکوي او دا چې ځایي خلک له حاکم نظام څخه کاملاً راضي او خوشاله دي.

خو له ټولو بیا جالبه دا وه چې پهٔ همدغو تنگو درو کې امنیتي تدابیر ډېر کم ترسترگو کېدل، خو امنیت سل پهٔ سل کې حاکم ؤ او عام خلک له اسلامي امارت څخه کاملاً راضي ښکارېدل، ځکه خو موږ پهٔ ساعتونو ساعتونو ډاډمن مزل وکړ اما هېڅ کومه امنیتي خلا مو حس نهٔ کړه.

هو! دا همغه ولایت دی چې د افغانستان ځینې دښمنان یې اوس هم محروم بولي اما داسې نهٔ ده؛ کله چې پر حاجیگک ور واښتو نو پر سرک یې نویې دوه رنگې (بغلونو ته دوې سپینې او پهٔ منځ کې یوه زېړه) رنگینې پټې کښل شوې وې او خلک یې دومره آرام او بې غمه وو چې وایی پهٔ اوړي کې زیاتره دروازې د شپې

مهـال هــم پــهٔ مــخ خلاصــې وي؛ د ورځــې خــو يــې لا څــهٔ کــوې او دوی ريښــتيا وايــي؛ ځکــه چــې د کورونــو او استوګن ځايونو معماري جوښت يې جوت شاهد ۆ.

لـه هغـې خـوا چـې بېرتـه راغلـو هـم هـېڅ داسـې څـهٔ مـو و نـهٔ ليـدل چـې خفـه کـوونکي يـا سـتړي کـوونکي وي، خلکـو عـادي او ډېـر خوشـاله ژونـد لرلـو، پـر لارو بـهٔ نجـونې پـر همغـه سـنتي توګـه روانـې وې؛ يـانې مخونـه لـوڅ امـا ډېـرې ډاډمنــې او کــاملاً مــأمونې ښــکارېدې، چــې هــېڅ وېــره يــې نــهٔ حــس کولــه او دا د ډېــرې خوشــالۍ ځــای دی چــې زموږ عام وګړي دومره بې غمه ژوند ولري الحمدلله.

اللــه پــاک دې پــر افغانســتان تــل همداســې نظــام حــاکم و لــري چــې ټــول وګــړي او اوســېدونکي يــې آرامــي او خوشالي پکې حس کړي. آمين